مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۱/۱۶

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## ۲۹مه‌برخه

## لنډۍ، د ټبتولو ستونزه

## ۳۵۸مه برخه

له ما سره د لنډيو په راټولولو کې چې ډېرزياراېستونکی او مرسته‌کونکی دی، هغه فرهنګي شخصيت ښاغلي عبدالعزيز نايبي دی، ده يوځل بيا مهرباني کړي ده سللنډۍ يي راټولي کړي او ماته يي رالېږلي دي. نايبي صاحب تر لنډيو مخکې د يوه خواږه پيام په ترڅ کې داسي راته ليکلي دي:

«ګران استاده سلامونه، ارادت!
د عُمر نوی پسرلی مو د تل په خېر له ثمر ډک غواړم.

دا سل لنډۍ مي تازه راټولي کړي دي، که تاسو ته نوي ښکاري، نو د لنډيو په اړونده ليکنو کې ورځخه ګټه اخيستلی شي.

ستاسو روغتيا او سلامتي مي هميشنۍ هيله ده.

په درناوی»

له نايبي صاحب نه په بيا، بيا منني سره، بايد ووايم چې د ده په رالېږلو لنډيو کې هغه‌لنډۍ چې زما له‌پاره نوي دي، ما راخوندي کړي او يادي لنډۍ ستاسو درانه حضور ته وړاندې کوم:

**ميني دي داسي لېونی کړم**
**سوځ مي په تا کې و په سپي ورورختمه**

**موري بنګړي به په لاس نه‌کړم**
**چا چي راوړي هغه بل وطن ته ځينه**

**ما نامګني چارې وکړې**
**لالی مي هېر کړ، ژوند ته بيا له سره شومه**

**مازديګر چېرته وې، چې نه وې**
**خورې ورې ځُلفي په بام ولاړه ومه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ملنګه دوه کچکوله راوړه
يو کې به مينه بل کې وينه درکومه

ما پسې کټ او برستن راوړئ
د ژمي شپه ورته کوڅه کې تېرومه

ليلو خبره يې که نه يې
يار دې ملګري خبروي له مُلکه ځينه

لمونځ خو په هر جومات کې کېږي
زه د جانان لهپاره کوز جومات ته ځمه

له موزيګي نه ورګه ښه ده
چې نيمه شپه شي، لټ په لټ مې اړوينه

له زورور سره دې سر شه
لاليه زه دې بېچاره مونډلي يمه

لاسونه غبرګ راځخه پرې کړئ
چې د کماصل جانان ور مې ټکاونه

لاړل هغه وختونه لاړل
لکه طوطي چې مور او پلار ساتلیومه

راځه، راځه چې خولګۍ درکړم
خاورې به درکړم، ما دروغ ويلي دينه

راشه په سترګو کې مې خوب شه
د ښېلتانه شوګيرو ډير وهلي يمه

د موزي سترګې د لېوه دي
دا رډ کاته يې له غوايي زده کړي دينه

د کلي دنګې ونې پرې کړئ
بازان په تورو غرو پناه شول نهراځينه

د سترګو تول نظر په ما که
ستا په ديدن پسې مې کړي دي مزلونه

د بختورو په نصيب وي
په تور ماښام د تورو سترګو ديدنونه

دا مخامخ دېواله وران شئ
تا نه پناه دي تورې سترګې، سره لاسونه

د زړه برجونه دې محکم کړه
زه د اوربل کلا ته، توپې خېژومه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ادېلی* د ګټي نه دی
د ختو ډکي پښي په ما چاپي کوينه

د دريا غږ يي لبونی کړم
تل يي په سرو لاسونو جګ نيولی وينه

د ملنګی جامه کي راشه
زه به په سور سالو کي خير دروباسمه

د دروازې د غږ اوازه
تللی لالی رايادوې، غرقه دې کړمه

د بې‌غمی په خوب ويده‌وم
بېلتون په مخ څپېړه راکړه، ويښ يي کړمه

دا موزيګی د اوړوو ګوډی
چي په څپېړه يي وهم دوړې ترې ځينه

په نيمه شپه له کوره ورکه
ياره لوچکه زه به تاته ناسته يمه

توله شپه تېره په حُجرو کړي
د سهار لمونځ ته يي په زوره ويښومه

کومی دې پرې شه موزي چرګه
چي په مړوند يي وم ويده ويښه دې کړمه

هليکوپتر غوندې کړه شوه
د زړه په سر يي په راکټوو وويشتمه

يار مي توپک، زه يي مرمی وم
په تورو غرو يي وويشتم، ورکه يي کړمه

تنخا دې ځان سره سمبال کړه
لاليه زه دې په خندا مئينه يمه

ځان دې په تورو چرسو تور کړ
خپلو ملګرو ته دې زه بدنامه کړمه

په نيمه شپه دې سلګی وکړې
ياره ناروغ يي که نيستي دې ژړوينه

په اروپا کي دې ډېر خند کړو
وړکيه مئين يي که قرضي دې کړي دينه

يار مي ولور له وطن ورک کړ
د ځوانی عُمره، په رواج دې تېرومه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

زړگی مې ستا له غېـږې نـه تلو
زه ستا شليدلي ټيکري ورک لـه مُلکه کړمه

نصيبه خور پـه دُنيا پروت يې
پـه گرځېدو درپسې زه سپين ږيرى شومه

غږ يې اشنا راتـه ښکاريـږي
پـه دې ملنگ مې د جانان گمان راځينـه

چې د سبا مُلا اذان کړي
څوک عبادت کړي، څوک مئين رُخصتوينـه

پـه کوڅـه غلی مـه تېرېـږه
جانانـه ټولـه دې پـه ننگ ولاړه يمـه

خبرې کړې شونډې دې ربـږدي
لـکه سور گل چې د سهار شمال وهينـه

سوال دې پـه کوم زيارت قبول شو
اوس يې راښيه چې لـنگر يې تودومـه

پـه ځان مې شک شو جوړ مئبن شوم
څوک چې درگوري پـه ما بد لـگي مئبنـه

وطن بـه ستا لـه تښـه پرېـږدم
خلـک بـه وايي لـه نيستۍ وتښتيدنـه

وخت مې پـه خولې لاسونـه ايښي
پـه اشارو د ديدن خواست درتـه کومـه

ستا بـه زما نـه گيلـه کېـږي
قسم دی ياره نظربنده مې ساتينـه

يار مې سوريـږي، راونېـږي
پر ما وريـــږي د سکروټو بارانونـه

يار مې د تلو څپلۍ پـه پښو کړې
زړگی مې ريـږدي اوس بـه واخلي قدمونـه

اوس د پردي وطن گلاب شوې
د باد څپېـړې پـه مخ خورم تا يادومـه

چې پخواني وختونـه ياد کړم
سر پـه بازو کړم، اوښـکې ښـکته تويومـه

چې سترگې پټې کړم، تا گورم
چې سترگې لوڅې کړم، خالي وي وطنونـه



افغان جرمن آنلاين پـه درنښت تاسو همکارۍ تـه رابولـي. پـه دغـه پتـه لـه موږ سره اړيکـه ټينـگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونـه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال پـه غاړه ده ، هيلـه من يو خپلـه ليکنـه لـه راليږلو مخکې پـه ځير و لولـئ

په تا به ښنګه شپه تېرېږي
په ما چې شپه شي لېونی درپسې‌شمه

تول مسافر وطن ته راغلل
يا يار خفه دی يا له قصده نه راځينه

بېلتون د ميني سوداګر دی
د اشنا قدر په اشنا پيدا کوينه

زه چې سهار له خوبه پاڅم
له کليمې سره دې سمه يادومه

په مازديګر مې جانان لاړو
چې مازديګر شي، سترګې دواړه پټې‌کړمه

په طبيبانو نه‌رغېږم
زهر د ميني مې په لېو ښبلې‌دينه

چې مړوندونو کې مې تنګ وو
هغه بنګړي مې اوس ښنګلو ته راځينه

اوس که راځې وختونه تېردي
زما د مخ خالونه اوښکو وړېدينه

اندېښنو جګ غرونه اوبه کړل
سلام دې ما ته وي په پښو ولاړه‌يمه

زړګيه خوار شې، زه دې خوار کړم
تا په بېننګه يار کې څه ليدلي دينه

جانانه ته ملامت نه‌يې
ملامت زه يم چې په تا به نازېدمه

وهه، وهه مخ مې تغمې که
ماسره ښايي، چې ستا غېږې له راتلمه

ستا اشنايي د اوبو ورخ دی
چې چينارونه پکې ږدم، اوبه يې وړينه

که ډېوالګی وای، ما به رنګ وای
لاليه نه رنګېږي شوي نصيبونه

نصيب زما، يا مې د يار دی
په اور دې وسوځي د دواړو نصيبونه

جانانه غم دې سور کافر دی
په ما د ژمي شپه په ويښه تېروينه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

په زړه مې ته وې، خدای رانه‌کړې
اوس که تمامه دُنيا راکړي، څه به يې کړمه

په لالي پام کوه نازک دی
زما چې يار و، ما يې ډير قدر کاونه

اب و دانه مې شوه تمامه
ليلا په زړه راکړل د تورو ګوزارونه

زړه مې له ټولې دُنيا تور دی
سوال د مرګي راته کوه، چې خاورې شمه

په ما يې داسې لوبې وکړې
که اندازه يې لګېده اسمان لويدنه

د بېلتانه راپسې مخ شو
يار يې جدا کړاوس مې کلي نه شړينه

د پلار او څوی هديره يوځای
د لور خو قبر هم په بل کلي کې وينه

د بېلتانه مابنام مې وژني
له کوره تللي خلک ولې نه راځينه

د سوي لاس پوښتنه کېږي
د سوي زړه پوښتنه هېڅوک نه‌کوينه

د لاس په کرښو کې مې نه وې
د بل نصيب وې، زه دې هسې خاورې‌کړمه

د زړګی څور راته جوړ يې
نه مې هېرېږې، نه مې بد درنه راځينه

چا ته به مړ لالی ياديږي
څوک له ژوندي جانان نه لارې بدلوينه

چې ډولی واخلي، ځای خالي شي
لکه دربار له پاچاهانو خالي شينه

ډولی مې ورو بيايه ساروانه
د ديوال خوا کې مې جانان سلګی وهينه

اوښکې لمانځې دې، که بې‌لمانځې
زما په څيرې ګرېوان ځې، لمونځ پرې کومه

ادکه مور درنه لوګی شه
په پردی ژبه راته مه ليکه خطونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

**جنګ خو د کلي منځ ته راغی**
**لالیه پورته شه چې ملا دې وتړمه**

**تن مې د ورک سړي باغچه ده**
**مېوه مې تول خوري، اوبه يو نه‌راکوینه**

**په تورو غرونو یې پناه کړه**
**جینی لا هغسې دادا، دادا کوینه**

**په وطن بیا مازدیګری دی**
**خاورې لالی دی سترګې چاته واړومه**

**کټ له یې ډیرې اوړې راغلې**
**د قام غمونه یې په زړه وو، درومد به وینه**

---

* ادبڅه: ۱- نیمه پیسه، اتانیز، د تېرې زماني یوه معمولي سکه. ۲- د شېخ ملي د وېش مطابق د ځمکې د تقسیم یوه برخه چې د نیمې روپۍ یا نیمې پچې برابر قیمت لري (پښتو ډیکشنري، قلندر مومند - قاموسونه).

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ